(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک

سرلیک — مخګڼه


| سرلیک | مخګڼه |
|---|---|
| یادښت | ۸ |
| سریزه: پښتو شعرپوهه او غرپوهه سره نه شلېدونکې دي | ۹ |
| ۱- څپرکی: پښتو شعر هېڅکله عروضي سېستم زغملی او سهلی نه دی | ۱۷ |
| ۲- څپرکی: په خپله جوله کې د پښتو شعر د سیالۍ هڅه | ۳۹ |
| ۳- څپرکی: )څپېز- خڅېز ( وزن د پښتوشعر آر او بنسټیز رغنده توک | ۴۵ |
| - څپه-خج-تون- غونډ | ۷۳-۴۷ |
| -مسره)۲-۵۲څپېزه (-ماته مسره | ۷۶-۷۵ |
| - څپېز کمی زیاتی | ۸۰ |
| ۴- څپرکی: پښبله)قافیه ( او پښبلیز آرونه او ویارونه | ۸۲ |
| آره او ناآره، همجولیزې، غبرګې، د برپښبلیزې، ردیف | ۹۰-۸۵ |
| دویمه برخه: پښبلیز ویارونه ارکان، روي، لړونج | ۱۰۴-۹۳ |
| ۵- څپرکی: د شعر پېنځګوني رغنده توکونه | ۱۰۶ |
| ژبه، تول، تول شمېره )د پښتو وزنونو کچه ( ۱۰۶ - ۱۱۹ | |
| واند ، نبغ و پروت، ولوله، اند ، تړاو ، پروت و نبغ خیال ۱۲۹- | ۱۴۸ |
| ۶-څپرکی:ژب- ښکلاییز اړخ | ۱۵۰ |
| ۱ ( ژبه د شعر بهرنۍ جوله- پټ توان او بډایه وییپانګه | ۱۵۵-۱۵۱ |
| ۲ ( ښکلاییز یا بدیعي توکي: مجاز ، همغږیزې ۱۲۱-۱۲۹ | |
| | ۱۶۲ |
| ذهني انځورونه او ښلګې، تېرمهالې)وګړنۍ او کلاسیکې ( | ۱۷۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اهنگونو کومه شمېره هم چې ښاغلي اتل له سروکيو سره د لنډيو په نامه ټاکلې، له آره د اړوندو سروکيو د اهنگونو شمېره ده، نه د لنډيو. هن که سروکی د لنډۍ په منځ کې رانښوځي، يا يې ياترې مخکې وروسته راغبرګېږي او ياورسره پخپله لنډۍ يو مخيزه يا برخيزه )قسمًا ( تکرارېږي، دا بېله خبره ده.

په هر ډول، لنډۍ له آره يو شعري ځېل ياډول دی، او نور ))بښومه(( وګړني ډولونه يې پر وړاندې سندريز ډولونه دي. په دې توګه د دې پرځای چې د لنډۍ اهنګونه و نوموو، وشمېرو او ډلبندي کړو، په کارده، وار له مخه د دغو نورو، سندريز ډولونه يا اهنګونه پر ګوته کړو، ويې نوموو، ويې شمېرو او سره ويې وېشو. هرګوره، له دغو اړينو تخنيکي يادونو سره سره د ښاغلي اتل له بېلابېلو سروکيو سره د لنډۍ دڅو سندريزو ډولونو يا اهنګونو يادونه ګټوره ارزوو او د ګران مينه والو د ښه ترا پوهاوي لپاره يې بې ګټې نه بولو.

هرګوره، دلته يې له دوڅلو ښتو څخه تش يو څو بېلګې له لنډ لنډ جاج سره را اخلو:

## لومړی تيرايي اهنګ

د لنډۍ دا سندريز اهنګ )طرز ( ددواړو مسرو د وروستيو څپو يا وييو له غځولو يا کشالولو سره رامنځته کېږي او په پای پای کې يې ))مرم شيرينه ياره (( ورسره راماتېږي، په دې بېلګه:

ما د کوچي له عمره ځار کړي~~~

چې د سهار او ر يې بلېږي ترېنه ځينه ~~~

مرم شيرينه ياره !

## دويم تيرايي اهنګ

په منځ منځ کې د بېلابېلو سروکيو په راګډولو سره رامنځته کېږي:

ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ~~~

))شابه پر لوړه تيرا جنګ دی~~~ ((

لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه~~~

))شابه پر لوړه تيرا جنګ دی. ((

## دريېم تېرايي اهنګ

د لنډۍ پای ته يو سروکی راماتېږي)اتل يو نومېرلی يا مشخص سروکی را پر ګوته کوي ( ، لکه:

خدای دې د رود د غاړې ګل که~~~

چې د اوبو په پلمه درشم بوی دې کړمه~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځمني په ټولیزه توګه د ګرد جهان پر کچ، ان د لویدیځ په ښځواکي ټولنه کې د پوهې او فرهنګ له پلوه وروسته پاتې شوي یا پاتې کړشوي دي. په پرمختللي ښځواکي لويديزه نړۍ کې، تر هغې وروسته چې د دوه پېړییز پانګوالي پېر مودرنېزم تر شا پرېږدي او په شلمه پېړۍ کې پوست مودرنېزم ته راګډېږي، ښځه په سهي مانا متې د فرهنګ او شعروادب په پنځونه کې د راګډېدو جوګه کېږي. هرګوره، پر وړاندې يې زموږ په اسلامي ختيځ کې وار له مخه راځلېدلي او په دې لړ کې پښتنه دا هم درواخله.

په نومېرلي توګه لږ تر لږه له پېنځلسمې زېږدي پېړۍ او بيا د روښاني فرهنګي- سياسي غورځنګ راهيسې پښتني مېرمني )لکه رابعه، زرغونه، حليمه، نېکبخته، نازو انا ، سپينه ادې.. ( وار له مخه له خورا تړينګلو ترنځلو نرواکي بندېزونو سره سره د پوهې، فرهنګ او بيا شعر و ادب ميدان ته نيم نيم پټې مخ راوتلي دي. خو دا تريخ واقعيت هم پټولای نه شو چې په نو مهالي پېر کې، څه د سرا سري ټولنېزو او فرهنګي وروسته والي او څه د دوديزو او ديني لنډ انديو له لاملونو ، نه يوازې پرجهاني، بلکې پر هېوادني کچ له نژدې پارسيوانو ترلېو سره د سيالۍ جوګه شوې نه ده، او بيا دا چې له ژبنۍ شونتيا )جنسي-ګرامري توپير ( سره سره يې خپله ښځينه څېره يکې لا دومره په زغرده نه ده راځلولې، حال دا چې په وګړني ادب او بيا لنډيو کې يې لږ ترلږه تر سلطان محمود )۹۹۸-۱۰۳۰ز ( څه له پاسه يوه زرۍ د دغه زباد ويارلري:
د خالو خان لښکري راغلي
زه به ګومل ته د اشنا مخې)ديدن ( ته ځمه !

نن سبا چې يې له ښه مرغه، بياهم څه د ټولنيز خوځون او څه د نوې خبرتيايي او رسنيزې ټېکنالوجۍ له برکته پښتنو پېغلو مېرمنو دغې سيالۍ ته رادانګلي دي، نو دا تور ورباندې لګېږي چې خدای مکړه، دې يا هغې ته يې خپل نرينه خواخوږي ورليکي !

هو ، که د دغه تورتېپۍ چېرې کومه ببلګه رښتيا و موندل شي، لکه څنګه چې ))تاند اوبپاڼې (( داوه کړې او په تېرو څلور- پېنځو لسيزو کې يې ببلګې هم ليدل شوي دي، نو د ))له ځانه غلاد ښځمنو په ګټه(( يا ))ښځوته له ځانه غلا (( نوم ورکولای شو. دا د ژوراندو کره کتونکيو ځانګيزه پازه ده چې سپيناوي ته يې را ودانګي؛ که نه،دا د هغو نورو پر وړاندې يوه نابښل کېدونکې بې نياوي او لا ګناه ده چې کلونه کلونه يې خپل ماغزه ستړي کړي او تر ډېرو هلوځلو وروسته يې له نارينه وو سره لږو ډېره سيالي برابره شوې ده.

